محمد هارون خپل شعشعي


هفتم نومبر ۲۰۱۱

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۲۰

**۳۹- حَسَب او نَسَب :**

د حَسَب ( د « ح » په زورکي او د « س » په زْوَر) عربي ټکی په لغت کي، شمېر، اندازې، ګڼې، شمېرني ،ګڼلو، انګېرلو، بللو، سمون، برابری، پت او عزت، اصل او ذات، ختي او ټبر، د پلرو او نيکو وياړنو او داسي نورو ته وايي[1] . د نَسَب ( د «ن » په زورکي او د « س » په زْوَر) عربي کليمه له لغوي اړخه د خپلوی، دوستی، قرابت، خپښی( د واده پر بنسټ خپلوی)، ختي، ټبر، توکم، خپل، ذات، ريښي، شجری او داسي نورو په مانا راغلي ده، چي انساب يي د جمعي حالت دئ[2] .

په اسلامي تصوف او عرفان کي انسانانو ته سپارښتنه کيږي، چي ټل د خپل نفس په سپېڅلتيا، پوهي، پرهېزګاری، تواضع او نېکو کاروکي هڅي وکړي؛ او هيڅکله په خپل حسب او نسب و نه نازيږي . هيڅوک په نسبي او حسبي اړيکو؛ لکه پلارولی، مورولی، ورورولی، خور ولی، زوی توب، لورتوب او د خپلوی د نورو تعلقاتو لکه خُسر والي، خواښي والي، زوم والي او داسي نورو په مرسته د فضليت او ښه والي مقام ته نه رسيږي . همدغه راز، هيڅوک د سطان او وزير، صاحب او اغا، شيخ او قاضي، مفتي او حاجي او داسي نورو لقبوپه لرلو سره ، الهي قربت او عرفاني منزلت ته نسي رسېدلای .

د حسب او نسب د نه پاللو په باب عرفاني نظريې، پوخ قرآني اساس او تاداو لري . الله سبحانه و تعالی، د سپېڅلي قرآن د حجرات د سورې د لسم آيت ( ۴۹ : ۱۰ ) په لومړنی برخه « انما المؤمنون اخوة » کي ټول انسانان ورونه بللي دي . د همدې سورې د ديارلسم آيت ( ۴۹ : ۱۳ ) په وروستی برخه کي داسي

لاربنوونه سوې ده : « ... ان اکرمکم عندالله اتقاکم » یاني د خدای په وړاندي، ستاسي تر ټولو ښاغلی هغه څوک دئ، چي پرهېزګار یي( وي) . د عبس د سورې په څلور دېرشم، پینځه دېرشم، شپږ دېرشم آیت کي، د قیامت په ورځ د نسب اوحسب مسألي ته داسي اشاره سوې ده : « یوم یفر المرء من اخیه و امه و ابیه و صاحبته و بنیه لکل امری ء منهم یومئذ شان یغنیه » یاني هغه ورځ، چي سړی به له خپل ورور، مور، پلار، ښځي او زامنو تېښتي ( یانی هر څوک به د خپل ځان په فکر کي یي . ) د نبي کریم ( ص) په یوه مبارک حدیث کي، په دې باب داسي راغلي دي : « الجنة للمطعین و ان کان عبداحبشیا والنار للعاصین و ان کان سیدا قریشا » یانی جنت د اطاعت کوونکو دئ، که څه هم حبشي مریي یي؛ او دوږخ د ګوناکارانو دئ، که څه هم د قریشو ښاغلی یي[3] . همدا مسأله په یوه بل نبوي حدیث کي، په دې بڼه راغلي ده : « الجنة للمتقین و ان کان عبداحبشیا والنار للمطغین و ان کان سیدا قریشا » یاني جنت د پرهېزګارانو دپاره دئ، که څه هم حبشي یي؛ او دوږخ د ګوناګارو دپاره دئ، که څه هم د قریشو سید ( ښاغلی ) یي[4] . د قیامت میرمني، حضرت بي بي فاطمي ته، د اسلام د قافله سالار - حضرت محمد ( ص ) په یوه مبارک حدیث کي راغلي دي : « یافاطمه! اتقی و لا تتکی انی بنت رسول الله بغیر عمل صالح » یاني اې فاطمي پرهېزګاري وکړه؛ او بې نېک عمله پر دې تکیه مه کوه، چي زه د خدای د رسول لور یمه [5] .

نامتوعرفاني شاعر - مولاناعبدرحمان جامي ( ۸۱۷هـ ق/ ۱۴۱۴م - ۸۹۸ هـ ق/ ۱۴۹۲م) انسان د حسب او نسب پر ځای، دخدای میني ته وربولي :

« بندۀ عشق شو ترک نسب کُن جامی !

که درین راه فلان ابن فلان چیزی نیست[6] »

مفکر عرفاني لاربنود - بایزید روښان قدس سره ( ۹۳۱ - ۹۸۰ هـ ق) د کامل پیر د موندني په خاطر د خپلو اورېدو کوښښو په لړ کي له یوه عالِم څخه پوښتنه وکړه، ایا څوک بې له دې چي د نبي پوهه او د حق تعالی معرفت ولري، دپلرو او نیکو په تېر پیر کېدای سي؟ هغه جواب ورکړ : قرآن او نور کتابونه وګوره؛ او په هغه څه عمل وکړه، چي حق تعالی او د هغه رسول ویلي دي . کله چي په قرآن کي پلټنه او ګروېرنه وکړه، د نسب په اړه یي دا مبارک آیت وموند : « فاذا نفخ فی الصور فلا انساب بینهم یو مئذ و لایتسآء لون[7] » یاني کله چي د صور شپېلی پو سي، د دوی په منځ کي به نسبونه نه یي؛ او نه به له دوی څخه د نسب پوښتنه وسي [8] . پیر روښان، د پیغمبر ( ع ) لوی والي او مقام ته په ګوتنیولو سره استدلال کیي،که څوک په نسب او کورنۍ پیرکېدای سوای؛ نو به کور په کور هر څوک پیر وای؛ ځکه چي انسانان ټول د پیغمبرانو بچیان دي[9] .

زموږ واصل عارف، علي محمد مخلص، په خپله عارفانه شاعرۍ کي، خدای تعالی ته په رسېدو کي، د حسب او نسب د بې ارزښت والي په اړه ډېري ژوري خبري کړي دي . هغه له قرآني نصوصو سره سم، دې حقیقت ته پام اړوي، چي د جزا په ورځ انسانان د خپلو عملو او خویو پر بنسټ د لوی قاضي حضور ته وړاندي کیږي؛ نه د حسب او نسب له مخي؛ او د هغه عادل ذات قضاوت هم یوازي د نېکۍ او پرهېزګارۍ پر اساس دئ، نه د کورنیو او قومي اړیکو له مخي . دی وایي :

څو په خوی سره یو نه وي

ناسته نشي له نسبه

ستاحشر به وي لــه جنسه

نسب ګانده بې حسبه

مخلص، په الهي دربار کي د عملو او خويو پر بنسټ قضاوت داسي انځوريي :

ځوک ناري نار لره درومي
د عمل جزا به مومي
چي نوري وي نور به ورکه
که تاجک وي که رومي

مخلص په « حالنامه » کي، د سپېڅلي قرآن دحجرات د سوري د ديارلسم آيت ( ۴۹ : ۱۳) په وروستی برخه استناد کيي، چي وايي : « . . . ان اکرمکم عندالله اتقاکم » ياني د الله تعالی په نظر، ستاسي تر ټولو ښاغلی او عزتمن هغه ځوک دئ، چي پرهېزګار يي . وروسته د نوابغو د نابغه - حضرت محمد ( ص ) دي حديث ته اشاره کيي : « ليس فضل احد علی احد الا بالتقوی » ياني بي پرهېزګاری هيڅوک پر بل چا غوره نه دئ۱۰ . مخلص، په يوه پارسي مثنوي کي، د انسان په ښه والي او فضيلت کي، د هغه حسب و نسب، مال و دولت، جاه و جلال، مقام و منصب ، چاکر و نوکر ته د ارزښت په سترګه نه ګوري :

« . . . نيست فضل آدمی بر آدمی
جز بتقوی بشنو از حق ای سنی
نيست فضل آدمی نزديک رب
از متاع دنيوی نی از نسب
نيست فضل آدمی بر يکديـگر
از بسی منصب و يا از سيم و زر
نی ز بسياری لشکر در حشـم
فضل دارد نزد حق يا از خـدم
نيست قدر آدمی نزد وهـاب
از بسی اموال و ملک بی حساب
يا بود فضلش به نزد ذوالجلال
از لباس ظريف و اسپ و بِغال
از چنين اشياء شنو نزديک حق
نيست قدر آدمی بشنو سبــق . . . ۱۱»

د مخلص په اند، د حساب او جزا په ورځ، د ختي او ټبر، ذات او ريښي پر ځای د انسان د فضايلو او صفتو پوښتنه کيږي :

« يوم ينفخ نی نسب باشد نی ذات
روز محشر هست پرسش از صفات۱۲ »

مخلص ، په « حالنامه » کي د رسول الله ( ص ) د خپلي کورنی د يوه مشهور علمي او متقي شخصيت - امام جعفر صادق ( رض) د تقوا يوه عبرتناکه کيسه راوړي ده، چي يادونه يي دلته بې ګټي نه بولو . يوه ورځ حضرت جعفر صادق ( رض) خپل حبشي مريي ته وويل : زما سره ژمنه او وعده وکړه، که حق تعالی ته وبخښلي، زما شفاعت به هم کيي! مريي ورته وويل : زما باداره! د پيغمبر اولاده! ته ولي داسي خبري کيي؟ په داسي حال کي، چي نيکه به دي د ټول اُمت شفاعت کيي، نوځنګه به خپل بچيان بی شفاعته پرېږدي؟ جعفر

صادق ورته و ویل : زه د خپل نیکه له مخي شرمېږم . د سرکښی په دوږو سپېره مخ څرنګه هغه ته وړاندي کړم؛ او له هغه څخه شفاعت و غواړم ۱۳.

مخلص، د خاندان په خولی غولېدلو کسانوته د جاهلو او ناپوهو خطاب کيي :

« نیست پر سش از نسب روز قیام

حق فرستاده است بر تو این پیـــام

از نسب مغرور گردد جاهلـــــــــــی

نان به نام آَب خورد ناقابلــــــــــی۱۴ »

بل ځای، د حساب په ورځ د حسب او نسب د نه منلو تر څنګ، په بي عمله پوهي مغرور انسان، له هغه چا سره ورته ګني، چي په ړندو سترګو نازيږي . د ده عارفانه کلام دئ، چي وايي :

« نسب روز قیـــامت بی حسب دان

مراتب از عمـــل نه از نســـــب دان

نسب فردا نیاید هیچ در کـــــــــــار

به امید نسب طاعات مـــــــــگذار

چو صور در دمد روز قیــــــــــامت

نه پرسد از نسب پیش آر طـــــاعت

ز عِلم بی عمل مغرور چونــــــــــی

ز چشم بی بصـــر مسرور چونی . . . ۱۵ »

د مخلص د عرفاني نړی لید له مخي، که څوک د پلرو او نیکو په نسب لوېدلای؛ نو باید ټول انسانان لوی سوي وای؛ ځکه انسانان ګرده د حضرت آدم (ع) بچیان دي . په داسي حال کي، چي عملاً ګورو ځيني کاپیران ( کافران )، ځيني منافقان او ځيني نور طاغي او باغي دي . لوی والی او ښه والی د باري تعالی په پېرزوینه؛ او دنېکو خویو او صفتو په ترلاسه کولو پوري اړه لري۱۶ .

مخلص، هغو کسانو ته چي د پلار او نیکه په نېک نامه پسي ګرزي ، داسي وينا کيي : « میراث پدر خواهی، عِلم پدر آموز! »

مخلص، مېړنی او اتل هغه څوک بولي، چي په خپله میدان ته ور ودانګي؛ په خپله حماسي او کارنامي وزېږيي؛ نه داچي د نېکانو په ګور او ویاړونو وځړيږي :

« تو تا کی گور مردان را پرستی

بگرد کار مردان رو که رستی۱۷ »

مخلص، د انسان لوی والی او فضلیت د هغه د زړه په سپېڅلتیا، د هغه په پوهه، عرفان او بي غرضه الهي مینه کي لټيي . مخلص، د داسي صفتو او خویو خاوند، په هره خټه او ټبر، هر قام او نژاد چي يي، د درناوي او میني وړ ګني :

هر که اهل الله باشد در جهان

جانب نسلش مبین ای نو جـــوان

صحبتش بگزین گذار از ننگ و عار

عار بگذار و شها کن در کنـار

هر كه باشد در جهان صاحب زمـان
خدمت او كن نكش سر ز او جوان
هم بيابی جاه هم دولـــت ز او
هم بيابی با خدا قـربت ز او
پند مخلص بشنو ای اولاد پــير
اهل حق دوست گير ای در ضمير

حقيقت دادئ، چي د توحيد په بې مثله شرابو مست عاشقان، د خپل اوږد عرفاني سفر په ترڅ كې د نسبي او قومي ريښو تر محدودو پولو ډېر پراخ فكر مومي . داسي فكر ، چي د هغه له بركته د خدای او د هغه د مخلوقاتو په ناپايه مينه كې خپل ځان او هستي هم هېريږي؛ لكه څنګه چي د پښتو د عرفاني شعر بل ځلانده ستوري - رحمان بابا ( ۱۰۴۲ - ۱۱۲۸ هـ ق ) هم په يوه بيت كې ويلي دي :

« . . . زه عاشق يم سر و كار مي دئ له عشقه
نه خليل، نه داؤدزی يم نه مومند . . . ۱۸»

لمنليكونه


۱ عميد ۲ : ۹۴۰ - ۹۴۱؛ . Wehr 175
۲ عميد ۳ : ۲۳۹۳ ؛ .Wehr 960
۳ مخلص، حالنامهٔ پير روښان ۳۵ .
۴ مخلص، حالنامهٔ پير روښان ۷۲۷ .
۵ مخلص، حالنامهٔ پير روښان ۷۲۷ .
۶ مخلص، حالنامهٔ پير روښان ۳۵ ، ۷۲۴.
۷ د مؤمنون د سورې يو سلو او يو آيت ( ۲۳ : ۱۰۱ )
۸ مخلص، حالنامهٔ پير روښان ۳۵ .
۹ مخلص، حالنامهٔ پير روښان ۲۱۳.
۱۰ مخلص، حالنامهٔ پير روښان ۷۲۷ .
۱۱ مخلص، حالنامهٔ پير روښان ۷۲۶ .
۱۲ مخلص، حالنامهٔ پير روښان ۵۰۵ .
۱۳ مخلص، حالنامهٔ پير روښان ۷۲۸ .
۱۴ مخلص، حالنامهٔ پير روښان ۳۵.
۱۵ مخلص، حالنامهٔ پير روښان ۱۳۰ .
۱۶ مخلص، حالنامهٔ پير روښان ۷۲۵ .
۱۷ مخلص، حالنامهٔ پير روښان ۷۲۵ .
۱۸ رحمان بابا ۲۲.